سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۷/۰۷

# مُســــــــلـمـاني!

چې مـې ولـیدلـه ستا مُسلمانی | لـه مانه شې، که وی دا مُسلمانی
مُسلمان حلالـوی او مُسلمان دی | خدایه! دا به وی ریښتیا مُسلمانی؟
توپیر څه دی په یزید او په عمر کې؟ | یــا هـغـه وه او یــا دا مُسلمانی!

د شیطان په فیصلو تړلی بنکاری | د «دیوبند» د لوی ملا مُسلمانی
خجالت دی مُسلمان کړلـو کافر ته | پـریـده نوره! دا خطـاء مُسلمانی
تباهـی خو ناروا ده په اسلام کې | تــا روا کـړه، نــاروا مُسـلـمانی

تعریف کړی چې مُحمّد مُصطفی ده | هـغه نه ده اشـــنا! دا مُسلمانی
مُسلمان یی یو بللی د بل ورور دی | تا را وړی دا ، دچــا مُسـلمانی؟
ناخبر چې له اسلام دي تا هغوی ته | کـره تصـویر توره بلا مُسـلمانی

عاطفه او ترحم دی په اور وسول | په وحشت شـوه مُسـمّـآ مُسلمانی
زلـزلـه دی په اسلام ده ګډه کړی | له رواج دی کـړه فـدا مُسـلمانی
ورکوی به رب ته څه ځواب ظالمه | چـې کـوی دا د ریـــا مُسلمانی؟



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

تـوبـه وکړه مُسلمان شـه منافقــه!   د سـياست نه ده جـدا مُسلمانی

لا هم وخته دی تجديد د عمل کيږی   پريـده پريـده دا رسوا مُســلمانی

اجنـبـی دی غولوی سـاده مومـنـه!   در نه اخلـي په سـودا مُسلمانی

کار د دين او د دنيا کيږی په سوله

په جـګړو کی شــی تباه مُسلمانی

تورنتو ــ کانادا - اپريل/۲۰۰۷